# د ازادۍ په تحریک کښې د بېرسټر محمدجان خان کردار

## Role of Barrister Muhammad Jan Khan`s in Freedom Movement

ډاکټر اصل مرجان (محب وزیر)*

**Abstract:**

Barrister Muhammad Jan Khan one was the prominent activists of the freedom movement and also the founder of Khilafat Local Committee in District Bannu of the Khilafat Movement. He was born in Pathan Kot village near Bannu city in 1889. He got his early education from Govt High School No.1, Bannu City, law from Aligarh University Hindustan and barrister from Edinburgh University, London. For the first time, he was imprisoned by the British government for three years in 1920, which he spent in the famous Haripur Jail.

This article presents details about Barrister Muhammad Jan Khan`s life and his struggle regarding freedom movement.

----------------------------------------

Key Words:

Freedom – Movement – Khilafat – Prison – Pashtun – Hijrat

----------------------------------------

د برصغیر د ازادۍ د تحریک تذکره زمونږ د اوسني تاریخ یوه داسې پانړه ده چې که یو خوا مونږ ورباندې ویاړ کوو ، ولې د بده مرغه مونږ د خپل دغه تاریخ ډېر نوموړي په مکمل او منظم انداز د وړاندې یا څیړلو هڅې هم نه دي کړې. د ازادۍ په تحریک کښې دا خبره خو مسلمه ده چې پښتنو هغه بنیادي کردار ترسره کړے دے کوم چې د پېرنګي په شان ستر او منلي قوت یې په شا وتمبولو او د وړاندې تګ پالېسي یې په شاتګ وربدله کړه.

د ازادۍ د تحریک ازانګې چې د شلمې پېړۍ په شروع کښې واورېدل شوې نو د دغه ازانګو په ترڅ کښې د ټولې پښتونخوا اولسونه ځاے په ځاے یا ټولي ټولي یا ډلې ډلې

* Director Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan University Charsadda

راپاڅېدلي ضرور دي ، ولې دغه راپاڅېدل يې باقاعده يو منظم سياسي عمل نه ګڼل کېدو بلکې د قبيلوي چيغې رنګ به يې زيات اخستے وو ـ خو څنګه چې د پښتونخوا ځوانان د تعليم او زده کړو لور ته راغلل ، نو بيا پکښې سياسي شعور هم رامخې ته کېږي او په درسته پښتونخوا کښې دا خواره واره د مزاحمت توکيو ته د يو منظم شکل د ورکولو کوششونه پېل کېږي ـ

په دغو ځوانانو کښې يو ببرسټر محمدجان خان هم شامل دے ـ د ببرسټر صېب تعلق د بنو ښار د بټهان کوټ سره وو چې د بنو نورنګ په روډ پروت يو کلے دے ـ د محمد بخش زوے وو چې هغه پخپله هم جج پاتې شوے دے ـ په کال اتلس سوه نهه اتيا (۱۸۸۹) کښې پيدا شوے وو (۱) ـ د ګورنمنټ هايي سکول نمبر۱ نه يې لسم جومات پاس کړو ـ د سکول په زمانه کښې د آل انډيا فټ بال لوبغاړے هم پاتې شوے دے ـ د لوړو زده کړو د پاره اول علي ګړه ته چرته يې چې د وکالت ډګري ترلاسه کړه (۲) او بيا يې د اېډنبرا پوهنتون (لندن) نه په څو ژبو کښې د ماسټرۍ او ورستو يې هم د دغې پوهنتون نه د ببرسټرۍ ډګري اخستې ده ـ (۳) ـ څه موده يې د جبري نوکرۍ په ترڅ کښې په برټش فوځ کښې هم تېره کړې ده او د وړومبي نړيوال جنګ په زمانه کښې د فرانس محاذ ته هم لېږلے شوے وه (۴) ـ

لندن کښې د اوسېدو په مهال يې د پېرنګيانو رويه ډېره د نژدې نه وليدله چې څومره يې د هندوستانيانو نه نفرت کولو ـ نو د هغه ځاے نه يې د ځان سره د پېرنګي په خلاف د منظم کار کولو يوه مصممه اراده د ځان سره راوړه ـ لندن کښې د هندوستان زياتره زده کونکيو دا هوډ کړے وه چې څنګه د خپلو زده کړو نه اوزګار شو او وطن ته ستون شو نو د وطن د ازادۍ يوه منظمه مبارزه به پېل کوو (۵) ـ دلته د هندوستان د ازادۍ ټول نوموړي راهنمايانو يو بل سره تعلق جوړ شوے وه ، نهرو سره هم دلته د ببرسټر ډېر د ملګرتيا يو تعلق وو (۶) او بيا چې څنګه وطن ته راغلي دي نو هر چا د خپل وس ترمخه د خپلې خپلې سيمې نه د پېرنګي په خلاف کار پېل کړے دے ـ

په کال نولس سوه نولس (۱۹۱۹) کښې د تحريک خلافت په ترڅ کښې اول د خلافت مرکزي ، بيا صوبايي او بيا مقامي (ضلعي) کمېټۍ جوړې شوې او هغه خورې ورې انفرادي مبارزې ته د يو منظم شکل ورکولو هڅې رواني شوې ـ ببرسټر محمدجان خان هم د حکيم عبدالرحيم ، ميرقلم خان ، حکيم عبدالسلام ، حق نواز خان ، معزالله خان او نورو په ملګرتيا بنو کښې د خلافت

کمېټي جوړه کړه (۷) چې قیادت یې د ببرستړ په لاسو کښې وه (۸) . او دا کمېټي یې د ټول هندوستان د خلافت تحریک برخه وګرځوله.

په دغه زمانه کښې ببرسټړ ته پېرنګي سرکار باقاعده د صوبه پښتونخوا (هغه وخت سرحد) ګورنر سر روس کېپل په ذریعه په تحریري ډول د اي اې سي د عهدې پېش وکړو چې ببرسټړ هم په تحریري ډول دغه پېشکش مسترد کړو (۹). پېرنګي سرکار بېلابېلې طریقې او وسیلې کارولې چې څنګه ځایي خلق او په خصوصي توګه تعلیم یافته ځوانان د وطن او خاورې د ازادۍ د مبارزې نه وشوکوي. اول به یې ورته ښه مناسب پېشکشونه کول چې په هغې به ونه شوه نو بیا زندانونو ته اچول او چې په هغې به ونه شوه نو په زندانونو کښې ډېر دردونکي اذیتونه ور رسول ، جایدادونه ضبط کول او څوک رنګون یا تورې اوبه ته رسول او څوک ببخي په دارونو ځړول. خو د وطن بچیانو د هېڅ قسمه تکلیف او مصیبت پرواه نه ده کړې، نه یې د وطن په ازادۍ کومه سمجهوته کړې ده.

ببرسټړ هم چې د پېرنګي دا پېشکش ونه منلو نو بیا یې زنداني کړو. په شلم مارچ نولس سوه شل (۱۹۲۰) د بنو له خوا درې مهم کسان چې ببرسټړ محمدجان خان ، ملک خدابخش او حکیم عبدالرحیم ونیول شول. درې درې کاله سخت قید چې مشقت پکښې هم شامل ورته واورول شو (۱۰) . الله بخش یوسفي یې په جېل کښې د یو ملاقات نقشه ډېره خوندوره وړاندې کړې ده. وایي مونږ د ببرسټړ محمدجان خان د نوم او په تحریک کښې د دلچسپۍ نه خو خبر وو ولې د شکل سره یې اشنا نه وو. یوه ورځ ماښام چې بارکونه ټول بند شوي وو ، د جېل داروغه زمونږ بارک ته یو لوړ دنګ سور سپین سړے چې د ترکانو ټوپۍ یې په سر وه ، راوستو او دا یې ووې چې دا مېلمه به نن تاسو سره وي ، سحر به یې یورپین بارک ته درنه بوځو. سړي د راننوتو سره مصله وغوښته او په لمونځ اودرېدو. دلته قېدیانو اندازې لګول شروع کړې ، چا وئیل چې ترک دی ، چا وئیل چې ایرانے دے ، چا وئیل چې افغانے دے خو عبدالرحمان به وئیل چې ما ته چې د ببرسټړ محمدجان خان کومه حلیه ملګرو ښیئلې ده ، نو زه ګمان کوم چې دا سړے پخپله محمدجان خان دے (۱۱). د دوي په نیولو (ګرفتارۍ) د پېښور له خوا یو شاعر (شاعر مو یې معلوم نه کړے شو) دا چاربېته هم وئیلې وه:

پېرنګي ونيول طوطيان د دين

د خلافت دا ممبران د دين

ورځ د پنځم وه هسې شور شو

په زړه مې بل د هجر اور شو

حکيم صاحب او بېرسټر عالمه

بل خدابخش لوے بهادر عالمه

دغه څو کسه وي غازيان د دين

پېرنګي ونيول طوطيان د دين (۱۲)

ازادۍ په تحريک کښې د بېرسټر محمدجان خان او د هغه د نورو ملګرو چې دوي سره په بنو خلافت کمېټۍ کښې وو ، د کمېټۍ نه د هندوستان ډېر نومورې هم متاثره وو . مولانا ظفرعلي خان به دا خبره په جار کوله چې په ټول هندوستان کښې د هجرت په وختونو کښې د بنو برخه ډېره جوته او ښکاره پاتې شوې ده . مولانا ظفرعلي خان د بېرسټر صېب په حقله يو نظم ليکلے دے ، اخري بند څه داسې دے:

کيا اس وقت جس نے سب کو بيدار

وه اک بيدار طالع نوجوان تها

خدا نے کی عطا جس کو يه توفيق

اکيلا اک محمدجان خان تها (۱۳)

ژباړه: يو داسې د وينې ضمير (قسمت) څښتن ځوان چې ټول اولسونه يې وينښ کړل ، دا توفيق يوازې محمدجان خان ته خدائے بخښلے وه .

نو دا خبره څه کمه نه ده چې د پردۍ ژبې شاعران په شعر کښې يو انسان ستايي ، د هغه مبارزه ستايي او د هغه کمټمنټ ستايي يا يې اعتراف کوي ـ که څه هم مولانا ظفرعلي خان وروستو بيا مسلم ليک کښې شامل شوے وه خو دا کوم اعتراف چې دوي کوي دا د خلافت د دور يا بيا د کانګرس د دور اعتراف کوي ـ

بېرسټر محمدجان خان د اسلام بي بي په واقعه کښې هم د نورعلي شاه عدالتي مرسته کړې ده ـ که څه هم دا واقعه د مسلم او هندو تاريخي اتحاد د خرابولو يوه لوبه وه چې د بنو اولس ته يې دا ښودل غوښتل چې پېرنګے د هندوانو مرستيال دے ـ خو بيا هم د بنو مقامي زيرکو او پوهه خلقو په دغه حقله د کومې شخړې يا هندو مسلم فساداتو نه اولسونه وساتل او په عدالتي طريقه يې دغه ستونزه د حل کولو لاره ونيوه چې بېرسټر محمدجان خان په دغه مهم کښې سرګرم پاتې شوے دے (۱۴) دا بېله خبره ده چې پېرنګے په خپل جال کښې پخپله ګېر شو او د اسلام بي بي د واقعې نه ورته فقير ايپي غونډې يو ستر مزاحمتي انسان مخې ته راغے چا چې په وزيرستان کښې د پېرنګي او د پېرنګي نه وروستو هم خپل مزاحمتي تحريک ته دوام ورکړو ـ

د خدايي خدمتګار تحريک په مرکز عاليه کښې چې کوم لوے کانفرنس شوے وه او د سندهـ ، بلوچستان ، پنجاب او کشمير پورې ازادي خواهان ورته رابلل شوي وو ، کښې بېرسټر محمدجان خان ډېر مدلل او اور ورونکے تقرير کړے وو او د خانانو په کردار يې ډېره تفصيلي رڼا اچولې وه چې دوي ولې او څنګه د استعمار يا پېرنګي مرسته يا ملګرتيا کوي ـ دوي دا خبره واضحه کړې وه چې دا جاګيردار يا سرمايه دار هم د بهرني يرغلګر يا استعمار نه دومره تنګ وي څومره چې يو عام وګړے ترې نه تنګ وي ، خو دوي په شته حېثيت او شته جاګير او سرمايه پورې يربېږي ځکه ورته مخامخ نه اودرېږي(۱۵)ـ

بېرسټر د پښتونخوا په خاوره يو بخرے وو چې د يوې شعلې د پاره کافي ګڼل کېدو ـ د خپلو بې پناه صلاحيتونو په وسيله يې د زرګاو خلقو په زړونو کښې د ازادۍ جذبه او درد او احساس ور اچولے وو ـ که يو داسې مخلص ، د قربانۍ مجسمه او لوړه پوهه لرونکے انسان چرته په بل قام يا ځاے لکه دهلي ، کلکته ، ممبۍ يا لاهور کښې پيدا شوے وے ، نو نن به يې يو بين القوامي حېثيت درلود (۱۶) خو بېرسټر د پښتنو او بيا د بنو په شان د وروستو پاتې سيمې سره

تړاو لرلو ، نو ځکه يې نن ذکر تش د تاريخ په پاڼو کښې خو خوندي د ے ، ولې پښتون ځوان کهول يې د نوم او مبارزې سره بلد نه د ے۔

---

## حوالې


1. يوسفی ، اللہ بخش ، سرحد اور جدوجهد ازادی ، لاهور ، مرکزی اردو بورڈ ، جون ۱۹۶۸ ، ص:۳۳۲
2. سېفي ، ګل ايوب خان ، د بنو او د وزيرستان تاريخ ، پېښور ، اعراف پرنټرز ، جنوري ۲۰۲۰ ، مخ:۴۷۵
3. سرحد اور جدوجهد ازادی ، ص: ۳۳۲
4. د بنو او د وزيرستان تاريخ ، مخ:۴۷۵
5. هم دغه ، مخ:۴۷۶
6. محمد شفيع صابر ، شخصيات سرحد (باراول) پشاور ، يونيورستی بک ايجنسی خيبر بازار ، س ن ندارد ، ص ۶۱۴
7. سرحد اور جدوجهد ازادی ، ص:۲۴۷
8. ايضا ، ص:۱۷۳
9. د بنو او د وزيرستان تاريخ ، مخ:۴۷۶
10. هم دغه ، مخ:۲۴۱
11. سرحد اور جدوجهد ازادی ، ص:۳۳۲
12. د بنو او د وزيرستان تاريخ ، مخ:۲۴۲
13. شخصيات سرحد ، ص:۶۱۳
14. د بنو او د وزيرستان تاريخ ، مخ:۳۱۵
15. احمد (کاکا) ، خدايي خدمتګار تحريک (دويم ټوک) ،تفصيل ندارد ، مخ:۱۷۸
16. شخصيات سرحد ، ص:۶۱۳